SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك مركزي نشراتي ارگان

دريم كال نو لسمه گڼه   پرله پسي (۱۱۹) چهارشنبه د ۱٤۱۸هق كال دذوالحجةالحرام (٤) ۱۳۷۷ هـ ش كال د وري دمياشتي (۱۲) د۱۹۹۸ميلادي كال اپريل (۱)

پلخمري در استانه سقوط حتمي

دشمن در خط جبهه پلخمري كاملاً مورال خودرا از دست داده و تاب مقاومت را در برابر مجاهدين اردوي اسلامي ديگر نخواهد داشت

خبرنگار اعزامي هفته نامه شريعت كه اخيراً از خط مقدم جبهه به استقامت پلخمري و بغلان ديدن نموده است، وضع نظامي آن شهر را چنين گزارش داد : مجاهدين اردوي اسلامي در قبال آخرين تحركات نظامي خويش در استقامت خط جبهه ولايت بغلان اخيراً توانستند كه با يك حمله برق آسا مناطق وسيعي را در نزديكي شهرك پلخمري (شامل فرقه ۲۰، غند ۱۰، منطقه بالا دوره، حسين خيل و...) از لوث مليشه هاي كياني تصفيه و پاكسازي نمايند.

محترم ملا رحمت الله «سنگريار» مسؤول عمومي جبهات نظامي ولايت كندز در زمينه چنين اظهار داشت : مجاهدين بيدار و كفر شكن اردوي اسلامي طي همين عمليات توانستند كه در پهلوي بدست آوردن غنيمت صد ها ميل سلاح خفيفه و ثقيله، ۵۰ تن از مخالفين را كشته، ۱۰۰ تن را در قيد اسارت آورده و ۲۰۰ تن از اهالي مسلح آن مناطق را وادار به تسليمي نمايند.

خبرنگار ما كه تازه از خط مقدم جبهه كه فعلاً در منطقه حسين خيل كه ٤ كيلو متر از بازار پلخمري فاصله ندارد، ديدن نموده است وضعيت آينده اين منطقه را پيش ص «٤»

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډير نږدې دى تقوا(پرهيزگارى) ته .

(سورة المائدة)

د كعبي شريفې د وينځلو مبارك مراسم تر سره شول

د ذوالحجي په لومړي نېټه د سعودي عربستان په وخت په شپږو بجو او پنځه خلويښت دقيقو د كعبي شريفې د وينځلو مراسم تر سره شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ د كعبي شريفې او د هغې د شاوخوا د ساحو وينځلو په مباركو مراسمو كې چې د سعودي عربستان د مقاماتو لخوا تر سره شول د افغانستان د اسلامي امارت د ارشاد او اوقافو وزارت سرپرست محترم حافظ محب الله او په سعودي عربستان كې د افغانستان د جلورم مخ

د كوه صافي په استقامت د دښمن يو بريد په شا وتمبول شو

د دښمن يو تعرض تېره شپه د كوه صافي په استقامت د جګړې په لومړيو كرښو كې شنډ كړاى شو او دښمن ته د سر درانده زيانونه واوښتل.

د باختر اطلاعاتي آژانس د يو مسوول خبر ځاى له خولې خبر راكړ : د تيري شپې د يوې بجې په شاوخوا كې دښمن په دغې سيمه كې د مجاهدينو په سنگرونو او مورچلونو باندې تعرض وكړ چې په دغه ځاى كې د اسلامي اردو د ميشتو قوتونو له متقابل ډ زو سره مخامخ شو او د سر د درانده زيانونو له زغملو وروسته بې ځلورم مخ

په كندهار كې په يو تن قاتل الهي حكم تطبيق شو

د محكمې د حكم له صادرېدو او د عاليقدر امير المؤمنين له تائيد وروسته د كندهار ولايت د سپين بولدك په ولسوالۍ كې د ذوالحجې په لومړۍ نېټه په يوه تن قاتل باندې الهي حكم تطبيق شو.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ : په هغې غونډه كې چې له هندي امله د سپين بولدك ولسوالۍ د عالمانو مشرانو ، مسوولينو او د زرگونو تنو خلكو په گډون په دغې ولسوالۍ كې جوړه شوې وه . لومړي د كلام الله مجيد ځلورم مخ

د هرات والي او د جنوب لوېديځې حوزې تنظيمه رئيس محترم ملا برادر اخند له شريعت اوونيزې سره په مركه كې :

په جنوب لوېديځه حوزه كې د اسلامي حاكميت ستنې ورځ په ورځ ټينګېږي

له اسلامي امارت نه د خلكو كلك او عملي ملاتړ ددې لامل شويدې چې د هيواد د ابادۍ او د اسلامي شريعت د تطبيق لپاره ګړندي ګامونه واخلو

پوښتنه :

د هيواد د جنوب لوېديځې حوزې سياسي او پوځي وضع څنګه ځېري ؟

ځواب : د هيواد په جنوب لوېديځې حوزې كې د طالبانو د اسلامي تحريك او د افغانستان د اسلامي امارت د ژوند بخښونكي او سوله خوښوونكو فعاليتونو له امله وضع د بل هر وخت په پرتله اوس ډېره يا ثباته او ډاډمنه ده . ددغې حوزې په ټولو اړونده سيمو او ولايتونو كې اسلامي شريعت نافذ دي، د اقتصادي رغاونې چټك كاروونه دوام لري او د خلكو هوساينې او نېكمرغۍ لپاره په زړه پورې گامونه اوچت شويدي د وسلې او جګړې بيز كلتور چې د هر چا سره د وسلې شتون ، د خلكو د ارام او هوسا ژوند د ګډوډولو اصلي عامل ؤ، د يوه منظم پلان له مخې د غير مسوولو وسله والو كسانو، ډلو او افرادو څخه ټولې شويدي او ددغې حوزې د نظامي قطعاتو په وسله تونونو كې خوندي شويدي.

په دغه حوزه كې له اسلامي امارت نه د خلكو كلك او عملي ملاتړ ددې سبب شويدي چې موږ د ابادۍ د كارونو او فعاليتونو او د اسلامي حاكميت د ستنو د ټينګښت لپاره ګړندي گامونه واخلو .

پوښتنه : د بادغيس، فارياب په جبهه كې وضع څنګه ده او ستاسې اړونده قطعاتو او جزوتامونو ددغې جبهې په پياوړي كولو كې كوم كارونه كړيدي؟

ځواب : په دې هكله غواړم څرګنده كړم چې د بادغيس، فارياب په جبهه كې د اسلامي اردو اتل او جنګيالي ځواكونه په ځلورم مخ

د غزني ولايت نظامي محكمه پرانستل شوه

د غزني ولايت نظامي محكمه د بوې غونډې په ترڅ كې په رسمي توګه پرانستل شوه او په كار يې پيل وكړ .

د غزني له ولايت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ په هغه غونډه كې چې له هندي امله په دغه ولايت كې جوړه شوه د غزني ولايت والي محترم ملا يار محمد اخند او ددغه ولايت د بيلا بيلو دايرو مشرانو چارواكو گډون كړى و . د غزني ولايت محترم والي د نظامي محكمې د پرانستلو د اهميت او ارزښت او د بنديانو او مجرمينو د دوسيو د څېړنې ځلورم مخ

د پكتيكا په ولايت كې يو تن قاتل ونيول شول

يو تن قاتل په دې وروستيو وختو كې د پكتيكا ولايت په مربوطاتو كې ونيول شو.

باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ عمر د ماويز خان زوى چې څه موده مخكې يې خپله ميرمن وژلې وه په دې وروستيو وختو كې ددغه ولايت د جانيخيلو ولسوالۍ د منسوبينو د هلو ځلو له امله ونيول شول او مربوطې محكمې ته وسپارل شو.

د خاص ارزگان سړك د شكي تر غاښي پورې ترميم او د استفادې وړ وگرځيد

د خاص ارزگان ولسوالۍ سړك د شكي تر غاښي پورې په دې وروستيو وختو كې بيا ترميم او د گټې اخيستلو وړ وگرځيد.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ دغه سړك چې د تيرو ځلورم مخ

د كندز په ولايت كې ډېرش منه چرس وسوزول شول

ډيرش منه چرس د كندز ولايت له مربوطاتو نه كشف او په عام محضر كې وسوزول شول.

د كندز له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ د كندز ولايت د استخباراتو رياست د موظفينو د هلو ځلو له امله ددغه ولايت د خان اباد د ولسوالۍ د شاه توپ په كلي ډيرش منه چرس كشف او د كندز ښار په چوك كې په عام محضر كې وسوزول شول.

د هيواد د لسو ولاياتو د مرستو چارواكې د پېښو په ضد تربيوي سيمينار كې گډون كوي

د هيواد د لسو ولايتونو د مرستي او عملياتو چارواكي د پيښور په ښار كې د پېښو په ضد تربيوي سيمينار كې گډون كوي دغه سيمينار چې د سرو صليبونو د نړيوال فدراسيون لخوا په دغه ښار كې جوړېږي د طبيعي او غير طبيعي پيښو د زيان من شويو كسانو چارو ته د لازمو تدبيرونو او مرستي او زيان من شويو كسانو ته د مرستي په خاطر د سملاسي كمكونو د ځلورم مخ

د تركيې په نوي تجويز شوي اساسي قانون كې د مسجد جوړولو او حجاب اجازه نشته

د اسلامي ډلو په ضد به جګړې ته دوام وركول كيږي

انقره (اي تي دي) د تركيې د حكومت مشرانو او د فوځ ځنې جنرالانو ژمنه كړيده چې د اسلام پالو په خلاف به خپلې مبارزې ته دوام وركوي . د تركيې د هيواد د سلامتيا كميټي په خپله تيره غونډه كې چې شپږ ساعته يې دوام درلود دا پريكړه كړيده چې سياست له مذهب نه بالكل بيل وي دوي وېلي دي دوي چي كوم قانون د تركيې لپاره تجويز كړيدي د پارلمان په راتلونكې غونډه كې به يې له پارلمان نه منظوري واخلي په دې قانون كې په تركيه كې د مسجدونو په جوړولو او د ښځو په حجاب بنديز لګيدلی دي.

تير كال په هند كې اوه تنه خبريالان وژل شويدي

نيو يارك: تير كال په هند كې اوه تنه او په نورو هيوادونو كې ۲٦ تنه خبريالان وژل شويدي په نيويارك كې د خبريالانو د ازادي او ساتني تنظيم په خپل يو كلن رپوټ كې ويلي دي چې تير كال براخې په هند كې اوه او په نوره نړۍ كې ۲٦ تنه خبريالان د هغوي ددندو له كبله وژل شويدي او د كال تر پاى پورې ۱۲۹ تنه خبريالان په زندانونو كې پراته وو .

د خبريالانو د ساتني او ازادي تنظيم په خپل دي ځلورم مخ

تصدي سپين زر كندز باكيفيت عالي توليد در خدمت هموطنان قرار دارد

شركت مذكور توانسته است كه در موجوديت ۵۰۰ نفر كارگر در حدود ۷۰۰ ميليون افغاني عوايد سالانه به دولت داشته باشد

تصدي سپين زر كندز در سال ۱۳۱٤ هـ ش با سرمايه دوراني ۲۰۰ ميليون افغاني با تركيب ۵۳٪ سهم دولتي، ٤۷٪ سهم اشتراكي در ساحه مجموعي ۷۵ جريب هكتار زمين و كميت ۲۵۰۰ نفر كارگر از جانب دولت وقت در شهر كندز تأسيس و به فعاليت توليدي خويش آغاز نمود .

توليدات عمده اين شركت پخته ميلوچ، روغن، صابون، پوستك، كنجاره و هوا اكسيجن تشكيل ميدهد .

محترم عبدالبصير «مجاهد» معاون تجارتي و تخنيكي تصدي سپين زر در مورد چگونگي فعاليت آن شركت به خبرنگار اعزامي هفته نامه شريعت چنين اظهار داشت :

خوشبختانه با ص «٤»

دلوي خداي (ج) په نامه

سرمقاله

مسلمانه ښځه له مېړه يا محرم نه پرته شرعاً سفر نه شي كولاى

اسلامي شريعت د دې لپاره چې ښځې له فتنې نه وژغوري په زړه پورې تدبيرونه نيولي دي تر څو د دوي شرف ، عزت او حيثيت د بداخلاقو كسانو له بلوسي نه وژغورل شي او له تشويش نه پرته خپله اسلامي دنده (د ټولنې د لومړنۍ خښتې په توګه د كورنۍ انتظام) په ښه توګه سرته ورسولي شي، له هغو تدبيرونونه يو دا هم دې چې مسلمانه ښځه دې له مېړه يا محرم نه پرته سفر نه كوي، دا حكم د اسلام له پنځو اركانونه د حج په ادا كولو كې هم په كلكه رعايت شوې دي ان تر دې چې كه څېرې حج په مومنه ښځه باندې فرض هم وي كه مېړه يا محرم يې نه وي د حج فريضه يې تاخير كېږي، دا د اسلام له پنځو اركانو څخه د يوه ركن د ادا كولو په هكله ددغه شرط اهميت او كلكه پالنه ده نو د نورو سياسي او تجارتي سفرونو په هكله خو ددغه شرط رعايت (پالنه) تر هر څه ضروري ده !

له دې امله د افغانستان اسلامي امارت چې په هيواد كې يې شرعي نظام پلي كړې دي د نورو هيوادونو د مسلمانو مېرمنو لپاره چې افغانستان ته راځي ددغه شرعي حكم اعلان كړې دي چې له مېړه يا محرم نه پرته دې نه راځي؛

دوهم مخ

داكتر عبدالناصر متخصص سلاحهاي بيولوژيكي عراق گرفتار گرديد

لندن : نماينده عراق در سازمان ملل متحد اعلان كرده است كه داكتر عبدالناصر متخصص سلاحهاي بيولوژيكي عراق كه مي خواست از كشور فرار كند، حين فرار گرفتار كرده شده است و اسناد مربوطه او به هيئت باز رسان ملل متحد سپرده شده است . راديو بي بي سي در يك تبصره در مورد وي گفت كه اگر او موفق به فرار مي شد ممكن مهمترين معلومات را بدسترس سازمان ملل متحد مي داد هكذا گفته شده است سلاحهاي بيولوژيكي كه توسط داكتر مذكور ساخته شده است در جنگ با ايران و هكذا در مقابل كرد ها استعمال شده است .

امريكايي ستر د ۵۰ تنو ناروغانو په وژلو اعتراف كړيدي

د امريكا د لاس انجلس ايالت اوسيدونكي يو تن ډاكتر په دې اعتراف كړيدي چې په تيرو څو كالو يې ۵۰ تنه ناروغان په روغتون كې وژلي دي.

ډاكتر سلريوارجو چې په يو سيمه ايز روغتون كې د ناروغانو علاج !! كوي پوليسو ته اعتراف كړيدي چې په ۱۹۸۹ م كال كې په دي مركز كې تر خپلي ټاكني وروسته يې ۵۰ تنه ناروغان په زهرجنو پيچكاريو وژلي دي چې لومړي به ددې پيچكاري په واسطه فلج او بيا به ووژل شول. دې ډاكتر ويلي دي چې د ۵۰ دوهم مخ

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په‌پاکستان‌کي(۳) کلداری
پوست‌بکس : (٤۷۱)
په پېښور کي : دطالبانونمایندګی‌تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۳۷
جاري حساب : $\frac{۴۰۳۸۵}{۷}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

بقیه سرمقاله

غربي هیوادونو او د ملګرو ملتونو موسسي چي بوازي د غرب فکر تایدوي – په دي خبره هم لکه د نورو شرعي حکمونو د تطبیق له امله ډېر شور ماشور او غوغا جوړه کړه، غربیان که په دغه هکله هر څومره بد تبلیغ کوي او له اسلامي نظام سره خپله دښمني ښکاره کوي د افغانستان اسلامي امارت به شرعي حکمونه له نظر نه هیڅکله نه غورزوي ، بي د چا له پروا کولو به یې چلوي انشاء الله تعالی!

خو د خندا وړ خبر د ملګرو ملتونو خاص استاځي ابراهیمي ده چي وایي : «په ٤۸مسلمانو هیوادونو کي دا خبري نشته چي طالبان یې په افغانستان کي چلوي او نه په اسلام کي شته ...» نعوذ بالله تعالی، د خندا وړ ځکه ده چي د اسلامي حکمونو معلومولو مرجع اسلامي شریعت دي نه هغه هیوادونه چي د اسلام نوم وریاندي پروت دي او د اسلامي شریعت حکمونه نه عملي کوي،

دده بله خبره چي وایي «دا خبري په اسلام کي نشته» سړي نه پوهیږي چي دي کوم اسلام یادوي؟ اسلام خو له هغو احکامو نه تعبیر دي چي الله تعالی را استولي دي او بندګان یې هغو ته تسلیم دي، په دغو احکامو کي چي فقهاوو کرامو «رح» ثبت کړي دي بي له شکه دا حکم ثبت دي چي د افغانستان اسلامي امارت د نورو هیوادونو مسلمانو میرمنو ته ابلاغ کړي دي ، له دي نه معلومیږي چي ابراهیمي په اسلام خبر نه دي که څه هم تکړه دیپلومات او په دیپلوماسي کي نړیوال شهرت لري، مونږ به دا پړه او ملامتیا هم د هغو ډیرو ملامتیاوو په لړ کي چي ملګرو ملتونو د افغانانو په هکله کړي دي و شمارو او یوه پړه به لا بله هم وریاندي زیاته کړو چي له کندهار نه یې خپل کارکوونکي په تشه پلمه په داسي وخت کي وایستل چي د سولي د خبرو اترو د یو داسي پړاو د پیل کیدلو وخت ؤ چي په هغه پوري د سولي په هکله ډیر امیدونه تړلي وو، د کارکوونکو ستونزه د خبرو اترو له لاري په اساني سره حل کیداي شواي!

دا به ډېره ښه خبره او د ملګرو ملتونو د بي طرفي له سمبولیك شان سره مناسبه وه چي دغه ستونزه د دواړو خواوو د تفاهم او خبرو اترو له لاري نه حل شوي واي او د اخضر ابراهیمي پیل کړي د سولي هڅو ته مي ضربه نه واي ور کړي؛

په داسي حال کي چي د اسلامي امارت مخالفینو د شمال په زیاتو برخو کي یو بل ته سنګرونه نیولي دي د ملګرو ملتونو کار کوونکي له کندهار نه په یو لوریز اقدام راایستلو نه کتونکي داسي استنباط کوي چي ملګري ملتونه د افغانستان په هکله بې طرفه نه دي او د اسلامي امارت د مخالفینو پلوي کوي، نو ځکه یې د اخضر ابراهیمي د سولي د پروسي د اوسني پړاو د ګډوډولو لپاره په دغه کار لاس پوري کړ تر څو مخالفینو ته د نورو پلمو فرصتونه مهیا او په لاس ورکړي؛

کتونکي ددغه استنباط په استدلال کي هغه څه ته ګوته نیسي چي د مخالفینو له دغو ګډوډیو، مخالفتونو ، د ملګرو ملتونو، سره صلیب او نورو امدادي موسسو د شتمنیو له لوټلو سره سره یې په ملګرو ملتونو کي د افغانستان کرسي لا اوس هم د مخالفینو په نوم ساتلي ده او د هغوي وهمي او فرضي رژیم په رسمیت پیژني؛ که د کتونکو دغه استنباط په ځاي وي نو مونږ په ډیره خواشیني سره داواړه چال چلند د ملګرو ملتونو د بي طرفي لپاره یو تور داغ بولو او ډیر تأسف وریاندي کوو.

مود

پټي پاڼي

شهرت ننګیال

جاپان د افغانستان د سولي په لاړ کي د یوي غونډي د کوربه کیدو غږ کړي او ویلي یې دي چي دوه کاله د مخه یې هم داسي یو وړاندیز کړي ؤ خو چا څه ځواب نه دي ورکړي .

وایي چي جاپان او افغانستان په یوه وخت آزاد شوي چي پر جاپان د دوهم نړیوال جنګ تاړاك هم تیر شوي، دغه خبره به د دموکراسي په لسیزه کي د پارك زرنګار په مظاهرو کي ډیره ګردان کیده او د جاپان پر مختګ او د افغانستان بیرته پاتي کیدو له امله به یې واکمنو ته پیغورونه ورکول.

جاپان په ربښتیا هم په ساینسي او تخنیکي برخو کي ډیر پر مختللي تر دي چي په صنعتي ساحه کي یې امریکا هم وارخطا کړي ده .

د جاپان د تخنیکي پرمختګ جادو ګري او اغیز له هر څه زیات موږ ښه لیدلی شو، د جاپاني پجارو، لنډ کروزرو ، فرادو او اس اس آر ګاو کوم قیامت چي زموږ پر کنډو کپرو سرکونو راکوز شوي هغه په خپل ځاي را به شو دي خبري ته چي د جاپان دغه لوکس او مهرن موټر اوس یو داسي مود ګرځیدلي چي ډیرو ته یې په نه لرلو خپل شخصیتونه هم نیمګړي ښکاري تر دي چي

که اوس ځوك د چا پښتنه کوي نو له روغ اورنځور مخکي یې د موټر احوال اخلي، ددغه مود شوق دومره زیات شوي چي د ژوند ټولي اړتیاوي یې په مخه اخیستي، معنا دا چي که دغه شوقیان د ژوند له لومړنیو ضرورتونو بیوسه او یې برخي وي خیر، خو چي موټر ولري که یې وطن وران او له فقر سره لاس او ګریوان او اولادونه یې بي تعلیمه پاتي کیږي، پاتي دي شي

خو چي موټر ولري او هغه هم د لوکس او د نوي مود موټر .

سړي چي په وران ویجاړ وطن او په کنډوکپرو سرکونو د جاپان دا نوي ماډل لوکس او مهرن موټر ګوري حیران شي او داسي وګڼي لکه زموږ په هیواد کي چي د جاپاني موټرو مسابقه جوړه شوي وي .

دغه فکر اوس دومره وده کړي چي که څوك د چاپه دروازه کي دریږي او دغسي لوکس موټر نه وي ورسره نو له دربان سره

ضرور دا سوال پیدا شي : تو کجا و من کجا ؟ او که هر څوله لوړي نه لوړي او ستري نه ستري دروازي په وړاندي داسي کوم لوکس ګاډي دریږي نو اتومات یې دروازه پر مخ بیرته وي.

معیارونه هم کله په بله اوړي لکه لوکس موټر چي د شخصیت پر ځاي معیار ګرځیدلي اوس که جاپان ددي پر ځاي چي یوه او بل ته یوه لوکسه میلمستیا او چکر ورکړي ښه به دا وي چي زموږ له جګړه ځپلي هیواد نه لږ ودریږي او د پیجارو ګانو، لنډ کروزرو، فراډو او اس اس آر له شر نه مو په امن کړي ، ددغو موټرو بریښنایزه چټکتیا او پلنو ټیرونو لکه د امریکي او روسیي توغندیو او بمونو زموږ د ډیرو د ژوند ډیوي ګل کړي دي .

ښایي جاپان زموږ دغه کمزوري درك کړي وي او د کور به کیدو د غونډي په سیوري کي مو نور هم د لوکسو او مدرنو ګاډو تر منتر لاندي راولي او اصلي مقصد یې خپلو موټرو ته مارکیټ پیدا کول وي ...

شیخ رشید پخپلو خاطرو کي لیکي :

ما به چي په جلسو کي وینا کوله نو د خلکو یو سمندر به مي په مخ کي په څپو ؤ خو چي په انتخاباتو کي به ودریدم نو هغه سمندر به وچ ؤ .

یوه ورځ د امریکي سفارت د خپلي ملي ورځي په مناسبت ماته هم بلنلیك رالیږلي ؤ زه پر بایسکل ورغلم د سفارت کارکوونکو چي خپل میلمه پر بایسکل ولید حیران شول لومړي خو یې نا بللي میلمه وګڼلم خو چي کارت مي وروښود بیا یې هم کابو نیم ساعت را باندي په انتظار تیر کړ، او په معذرت یې راته وویل : ویخښه موږ د بایسکل د پارکنګ انتظام نه ؤ کړي.

له همدي ځایه وه چي زه پدي باوري شوم چي لومړي پیسي وګټم او وروسته کیسي اوس که څوك دا هر څه خپل مجبوریت وګڼي سړي به یکي څه ووایي.

عالمه ماته ګناه نشته

ګناه د وخت ده چي مجبوره زه یې کړمه

د وختونو مجبوري هم بده ده ، د مجبوریت زولني چي د چا پښو ته ولویږي هغه په آساني نه لیري کیږي .

الله تعالی دي موږ له ټولو مجبوریتونو خلاص کړي له ټولو احتیاجونو مودي وژغوري چي هیڅوك مو له اړي او مجبوري ورځي ناوړه ګټه پورته نشي کړي .

۲۳

کورنی فقه

په اسلام کي د نسل د مخنیوي حکم

قاضي محمد حسن «حقیار»

پرته له شك څخه د اسلام سپېڅلي هر اړخیز دین تر بل هر مذهب زیات د نفوس ډیرښت ته لیوال دي لکه چي فرمایي « انما العزة للتکاثر» یعني « یقیناً چي عزت د ډیرښت په برخه دي» او د واده څخه مهم او عمده هدف د نیکمرغه کورني ژوند د لړۍ د ساتني تر څنګ د انساني نوع او نسل پایښت دي. رسول الله «ص» خپل امت ته لارښوونه کوي چي « په نکاح کړي مینه ناکي او زیږوونکي ښځي ځکه چي زه ستاسو په ډیرښت د قیامت په ورځ ویاړ کوم» ابو داؤد نسایي.

« نکاح وکړئ تولد او تکثر وکړئ زه په تاسو په نورو امتونو د قیامت په ورځ ویاړ کوم» جامع الصغیر امام سیوطي

«یقیناً الله «ج» خوښوي فقیر او نیستمن چي پاك وي او د ډیر اولاد پلار وي» ابن ماجه، احیاء العلوم .

خوله دي سره بیره بیا هم ځني وخت ځني کورني له دي اړخه له یو لړ ستونزو سره مخ وي، داسي ډول ډول عذرونه ورته پیدا شي چي مجبور وي چي په موقتي (لنډ مهالي) یا دائمي ډول د نسل مخه ونیسي. په سر کي ددي خبري سپیناوي په کار دي چي د لوړي له ویري د نسل مخنیوي او د اولاد وژنه حرامه او کبیره ګناه ده دا ډول جاهلیت عمیقي تاریخي ریښي لري او په صدر د اسلام کي ورته ظلم عظیم (لوي ظلم) وویل شو.

خو که نور ربښتوني عذرونه او اړتیاوي رامخي ته شي نو بیا د اصول فقهي قاعده ده چي « المعذورات تبیح المحظورات» یعني « عذرونه منع شوي کارونه روا کوي»

دا چي ربښتوني عذرونه کوم کوم یو دي ؟ د نسل مخنیوي په کومو حالاتو کي روا دي ؟ د حمل غورځولو حکم څه دي ؟ په دي هکله لږه څیړنه لازمه ده .

« باید روښانه شي د نسل مخه په دوه و حالاتو کي نیول کیدلي شي چي یو صورت یې د جنین د بدن له جوړښت نه د مخه په رحم کي د نطفي ختني کول یا د عزل په صورت کي کیدلي شي او بل صورت یې د کوچني د بدن او د جسم د ساختمان له جوړښت وروسته تر سره کیږي چي د حمل غورځول هم ورته وایي چي هر حالت یې ځانته بیلا بیل حکم لري.

په مجموع کي د بدن د جوړښت نه دمخه د نسل د مخنیوي په هکله فقهاء څو نظره لري چي ځني یې دا کار مطلق مباح ګڼي ځني یې حرام او ځني نور یې بیا روا والي په څو شرطونو پوري اړوند بولي .

جمهور علماء او فقهاء وایي چي د نسل مخه نیول روا دي که دا د عزل په صورت کي وي او که د دواګانو د استعمال په صورت کي دوي د خپل نظر د تائید لپاره ډیر دلایل لري . مثلاً بخاري او مسلم له حضرت جابر ابن عبدالله نه روایت کوي چي

« مونږ د رسول الله «ص» په وخت کي عزل کاوه او قرآن به نازلیده که دا کار منع واي نو قران به مونږ له دي کار نه منع کړي وو» په بخاري کي دا وروستي الفاظ که دا کار ... نه دي رانقل شوي.

صحابه و به هم عزل به په دي نیت کاوه چي بیبیاني یې حمل وانه خلي .

مسلم له حضرت جابر نه روایت کړیدي چي « مونږ د رسول الله «ص» په وخت کي عزل کاوه او رسول الله «ص» ته دا خبره ورسیدله خو هغه مونږ له دي کار نه منع نه کړلو»

په ردالمحتار کي د عزل تعریف داسي کوي « عزل دا دي چي انسان جماع کوي او کله چي د انزال حالت را نږدي شي نو خپله اله بیرته خارج کړي او انزال دیته وایي چي مني په فرج کي خارج کړي » په سبل السلام کي د عزل په هکله داسي لیکي : چي سړي له ننویستلو وروسته بیرته اله ددي لپاره خارج کړي چي انزال له فرج نه خارج وشي امام شافعي «رح» فرمایي : مونږ له ډیرو صحابه و نه دا روایت کوو چي دوي عزل رخصت کړي دي او هیڅ پروا یې پري نده کړي .

امام بیهقي وایي چي مونږ د عزل د رخصت روایت د سعد ابن وقاص، ابو ایوب انصاري، زید ابن ثابت، ابن عباس په څیر ډیرو معتبرو صحابه و نه کوو او همدا مذهب د امام مالك او امام شافعي هم دي فقه السنة جلد ۲ ص ۱۷٦

قاضي ابویعلي له عبید ابن رفاعه او هغه له خپل پلار نه روایت کوي چي دي له حضرت عمر حضرت علي حضرت زبیر او حضرت سعد او نورو سره ص«٤»

شبانګاه خونین

محمد یونس «مهرین»

شب از نیمه گذشته بود. عبدالقیوم مثل هر شب دیگر اریکین نیمه روشن را که بر بالاي پنجره، اتاقش آویخته بود و رو به خاموشي میرفت با بلند کردن فتیله اش بار دیگر روشن نمود او هر شب خواب را بر خویش حرام کرده بود زیرا در کنار منزلش، پوسته ملیشه ها قرار داشت و بیم آن میرفت که مورد تجاوز و حمله، آنان قرار گیرد.

قیوم که سالها پیش مادر و پدرش را از دست داده بود با پنج خواهر جوان و برادر کوچکش زنده گي مینمود. خانه، پدري وي در چهلستون بود و اما به اثر جنگها و درګیري هاي شیفته ګان قدرت از خانه اش مهاجر شده بود و در کارته پروان در منزل یکي از دوستانش زنده گي مي نمود.

در آن شب قیوم بیش از شب هاي دیگر آشفته خاطر و هراسان بود. هیچ نمیدانست چرا حواسش پرت است و حتي خواب یك لحظه یي هم از وي ربوده شده بود.

از جایش برخاست ، اریکین نیمه روشن را که بر بالاي پنجره آویخته بود در دست گرفت و به آهستگي راهي اتاق خواهران جوانش شد. دید خواهرانش همچنان خواب اند، به آهستگي در را بست و با آویزان کردن اریکین بر میخ پنجره دو باره به بسترش پناه برد تا مگر لحظه یي خوابش ببرد . هر چند در آن دقایق فضاي کوچه انباشته از خاموشي بود و اما با صداي تك مرمي هایي که از دور دست ها به گوش میرسید، سکوت شب و فضاي خاموش کوچه بر هم میخورد و معلم قیوم که سراپاي وجودش انباشته از اندوه خواهران جوانش بود، هیچ نمیدانست چه کند. او که از خانه و کاشانه اش مهاجر شده بود و غم مهاجرت از یکسو و اندوه خواهران جوانش از سوي دیگر، تاروپودش را همچون موریانه مي مکید و زنده گي در نظرش شبیه به ماتمکده یي بود که همه ساکنان کابل کم و بیش از آن سهمي برده بودند.

قیوم که غم شاگردانش بیشتر او را رنج میداد با اصابت هر راکتي در نقطه یي از شهر تو گویي مغزش از هم مي پاشید و روح از بدنش جا خالي مي نمود. وقتي خواب گذراي بر چشمانش مستولي میشد در نظرش مي آمد که شاگردانش با لب خنده هاي کودکانه به سویش مي نگرند و به درسهایي که به دستور او فرا گرفته اند ، گوش میدهند.

آنشب قیوم با کوله باري از افکار و اندیشه هایي که ناشي از ناراحتي هاي ذهني وي بود و سخت اورا رنج میداد، بار دیگر ص«٤»

د ځوان موقف په ټولنه کې

عبدالجبار «بهیر»

څرنگه چي ټولنه یو دروند پیټی دي د دراندو پیټي پورته کیدل قوي مټونه ضرورت لري او ځوان د قوي مټو لرونکي دي، نو ځکه کولای شي چي ټولنه د خیر او ښیگڼي په لور راواړوي . خو هغه ځوان(چي د خلکو په اصطلاح) په ښي اړخ را پاڅیدلي وي خپل قوي همت او قوي هڅونه یي د اسلام په لاره کي له هیڅ ټکر څخه نه وي سپمولي ، په زړه کي یي د خداي او د هغه د حبیب «ص» د محبت شغلي پورته شوي وي زړه یي په علم ژوندي وي د خپل ځان او د ټولني په وړاندي یي خپل مسؤلیت درك کړي وي.

نو همدا وجه ده چي وایي (څوك چي ځان وپیژني نو خپل رب او د هغه احکام هم پیژني) او خداي مه کړه په اصطلاح که ځوان په کیڼ اړخ را پاڅیږي همدومره یي بیا د بدبختي پله درنده وي څومره یي چي د ښیگڼي درنه وي.

وبه گورو د صحابه وو کرامو دورته چي خالد بن ولید «رض» د جهالت په دوره کي د ۷۰ صحابه کرامو د شهادت عامل وگرځید خو کله یي چي پام په نیکو شو (اسلام یي راوړلو) نو سمدلاسه یي د سیف الله لقب وگاټه . هوا پیغمبر «ص» دعا کړي وه چي اي ربه ته اسلام ته په یو د عمرینو قوت وبښه !

چي بیا الله «ج » د عمر فاروق «رض» په قوي مټو اسلام ته قوت ورکړو او دعأیي کړي وه چي خدایه! اسلام د سهیل«رض» په ضعیفه ژبه برخمن وگرځوه چي بیا همداسي وشول نو که له یوي خوا د حضرت عمر فاروق «رض» پراسطه د اسلام پله درنه وه خو له بلي خو د ابو جهل او د قریشو نور قوي ځوانان د اسلام د لا زیات پر مخ تگ په مخکي ستر خنډونه وو نو اي ځوانه! اي د قوي مټو او لوړي حوصلي خاونده! اي د سالم مغز او ستر نعمت برخمنده راپاڅیږه، د غفلت خوب دي ویده نه کړي، خپل قوي هڅونه یي ځایه وراسته نه کړي خپل ځان په علم منور او بیا د همدي علم په پلوشو کي خپله ټولنه د روښنایي او کامیابي لورته راوگرزوه او ورته قوي مټ او بازو شه هغه مټ چي نه کمزوري کیږي هغه مټ چي ماتیدل یي له خوبونو ځي نه وي .

د نن ځوانانو د سبا مشرات

صفحه اختصاصی جوانان

ملت ابراهیم

ملت مسلمه د خپل اصلي اجتماعي تنظیم په لحاظ د ملت ابراهیم په نوم باندي یاد کړي دي، دده دا حیثیت د یو عالي حکم« فاتبعوا ملة ابراهیم» لاندي او د اساسي قانون تابع دي د اسلامي نظام دا هماغه اړخ دي چي زرونه کاله د مخه یي خپل تنظیمي تمایل ښودلي و او دا هماغه شیرازه بندي وه چي وروسته د بي ساري تنظیمونولوري‌ته‌پهاشاره‌کولوسره‌یي د یو ستر امت کرښي راښکلي.

حضرت ابراهیم«ع» د اسلامي ټولني د قهرمان«امام» په حیثیت سره د الله تعالي«ج» نه د ځلورو ځیزونو هیله وه : ۱- د امن ښار، چي د ټولي نړي لپاره د امن و امان مرکز وي ۲- هوسا ژوند، چي د ټولو له پاره عام وي. ۳- امت مسلمه، یو داسي قوم چي تل د خداي حکم منونکي وي ٤- یو رسول، د سیاست او قانون معلم، د مذهب او اخلاقو لارښود، دا دعاگاني د عرش دربارته ورسیدي او د حق په دربار کي یي اجابت وشو، کله چي د امت مسلمه تسکین عمل ته راغي او قران کریم نازل شو نو دا وروستي اعلان یي وکړ : ابراهیمي ملت ته له داخلیدونه هغه څوك انکار کولي شي چي له عمل او پوهي نه یي برخي وي او پخپله جاهل وي.

د هیواد ځوان کیسه لیکونکی نعمان «دوست» سره مرکه

گرانو ځوانانو!

دا دي په دي لړ کي مو د هیواد ځوان کیسه لیکونکي نعمان دوست سره مرکه کړیده‌چي‌تاسوبي‌لوستلوته‌رابلو.

- ښه گران دوست صاحب ! د نن او پرون کیسي د څرنگوالي په باب که خپل لید څرگند کړي خوښ به شو .

ځواب : څرنگه چي د وخت په تیریدو سره ټولنه، ژوند، د ژوند غوښتني ، شرایط تغیر کوي، انسان هم ورسره خپل حالات بدلوي. ادبیات چي د ټولنیز ژوند پیداوار، او د انساني ذهن محصول دي هم ثابت نشي پاتي کیداي، ورسره سم بدلون مومي پروني انسان چي وزگار وخت‌ونه یي لرل او د ژمي سړي ، اوږدي شپي به یي د عشق، حماسي او د ښاپیریانو، دیوانو... په اوږدو، اوږدو خیالي کیسو سبا کولي، له هغو څخه به یي خوند او پند اخیست. ننني انسان دومره وزگار نه دي ولي د کیسو اوریدلو فطري مینه لري. د همدغو مجبوریتونو په نظر کي نیولو سره نني کیسه له پروني څخه لنډه او مختصه د اوریدو وړ گر نه راو وته .

پرونیو کیسو کي واقعي او حادثي زیات ارزښت درلود . خو ننیو کیسو کي ددي پر ځاي حالاتو او موقعیتونو ته زیات ارزښت ورکول کیږي ، کوښښ کیږي چي د خیالي پیښو پر ځاي په کي ریښتیني او هغه چي ذهن یي ژر قبلولي انځور کړي.

پروني کیسي اکثره درباري او عشقي وي، کوښښ به کیده چي د شاهانو قدرت ، زور او میړانه په کي تمثیل کړي او یا به د شهزاده، او شهزادگیو میني ، عشق او یا نورو مربوطو موضوع گانو ته وقف وي.

خو ننیو کیسو کي ټولنیز دردونه ننوتي، غریب او نادار خلك هم کیسه کي ځاي لري. شهزادگانو او شهزادگیو خپل ځاي مظلومو پیغلو، دردیدلو ځوانانو او د هغوي کړاونو ته پریښي.

د پرونیو کیسو کردارونه اکثره مثالي وه د ښو اخلاقو کرکټر به تر پایه ښه اخلاق لرل په هر ډگر کي به بریالي وه، هغه کارونه به یي کول چي عوام به تري عاجز وه ولی نني کردارونه هسي نه دي، له ښو اخلاقو سره سره اشتباهات کوي ناکامي سره مخ کیږي، او خارق العاده کارونه نشي کوي.

پروني کیسه کي زیار ویستل کیده تر څو پیښي ویرونکي، خارق العاده تمثیل کړي، د وحشي او ځیرونکو حیواناتو ځیري به په کي هم تر سترگو کیدي. او هغي کیسي به ډیر اوریدونکي لرل کوي چي به لا ویرونکي وي.

نني کیسه کي د حقیقت په ښودلو زیات ټینگار کیږي. او هم پخوانیو حیواناتو ننیو معدلو انسانانو ته ځاي پریښي په لنډه توگه نني کیسه په واقعیت ولاړه ده، کردارونئساني دي.

پوښتنه: دا ده چي ځیني لیکوالان په کیسو کي د ځنو اضافي او پرته له ضرورته صحني رامنځته کوي تاسو په دي اړه څه فکر کوي ؟ آیادابه‌پلوستونکوذهني‌زوروالي‌رانولي؟

ځواب : د اضافي صحنو راوستنه که په کیسه بوج پري نه باسي، او یا دومره ډیري نه شي چي اوریدونکو یالوستونکو څخه اصلي پیښه هیره کړي نو خیر دي. دا مهمه نه ده چي هر څه په کیسه کي راشي نو هغه دي څه ډنده ولري ځیني وخت داسي کیږي چي د منظر کشیو د لاښایست لپاره ځیني‌صحني‌راشي،نوله‌هغوڅخه‌بایدخامخاد څه‌عمل‌تمه‌ونشي‌دبیلگي‌په‌ډول:

د یوي‌عشقي‌کیسي‌په‌یوه‌منظر‌کي:

یو مین د خپلي معشوقي د دیدن لپاره د گودر غاري ته ځي هلته د مست سیند پر غاړه شني او دنگي وني ولاړي دي، د غرونو لمني او غوندي له رنگینو گلونو ډکي دي، د سپینو زانو زنځیري کتارونه مرغان له شنو کروندو څخه خپلو ځالو ته راروان دي. د مازیگر زیړي لمر ورو، ورو د غره له څوکي وري او... دلته دا ضرور نه ده چي سیند، شني وني، سپیني زانې، زیړي لمر او...» څه عمل وښیي بلکي دا د منظر او د طبیعت د ښکلا لپاره ښودل شوي، نو د داسي شیانو راوړنه که څه هم اضافي وي خو چي په لنډ او مناسب ډول وي خیر دي.

پوښتنه : د چا آثارو سره مینه لري ؟ او په خپلو لیکنو کي د چا د آثارو اغیز احساسوي ؟

ځواب : د اول ځل لوستني لپاره زما د هر چا اثار خوښیږي او د قدر په سترگه ورته گورم. بیا په ځانگړي توگه هغه اثار چي درد، سوز، ښه پیغام ولري، په واقعیت ولاړ وي، او پرته له څه تمي لیکل شوي وي، د شخص صفت په کي نه وي، ټولنیزو خیر ښیگڼو ته په کي زیات ارزښت ورکړ شوي وي او هم نوښت او ابتکار ولري چي د بیلگي په ډول د ارواښاد مرحوم گل پاچا الفت نوم اخستلي شم .

څرنگه چي زما مطالعه ډیره محدوده او د هر چا اثار مي نه دي لوستي ، نو نه پوهیږم چي زما گوتي ماتي لیکني به د چا تراغیزلاندي‌وي ؟

پوښتنه: تراوسه‌دي‌څومره‌کیسي‌لیکلي‌او چاپ‌شوي‌آثارهم‌لري‌اوکه‌نه؟

ځواب : خداي«ج» خبر کیسي به وي او که نه ؟ خو څه چي مي لیدلي او اوریدلي د خپل زړه براس مي کیسي ته ورته نشري ټوټو باندي ویستلي ددغو شمیر تقریباً شلو ته رسیږي ، لومړي کیسه مي د «یتیم» تر سرلیك دعوت او جهاد پوهنتون کي (هغه وخت زه د ادبیاتو د لومړي ټولگي محصل وم) په ۱۳۷۱/۱۱/۲۵ د جمعي د شپي په ۱۲:۵۱ بجو لیکلي. همدا راز د ۱۸ شاوخوا کي مي ادبي ټوټي لیکلي د کتاب په شکل تر اوسه نه دي چاپ شوي خو په پراگنده ډول له راډیو او ورځپاڼو څخه خپري شوي.

پوښتنه : ستاسو په نظر زموږ ځوانان باید د کیسو په لیکلو کي له کوم میتود څخه استفاده وکړي ؟

ځواب : اوسني لیکوالان باید هڅه وکړي چي خپلي لیکني (نثروي که شعر) د حقیقت په رڼا کي ولیکي داسلامي عقیدي په چوکاټ کي د خپل قلم خپلواکي وساتي د تمي ناولي ځنځیر د قلم په پاکه غاړه کي وانه چوي، د پاولیو شرنگهار او د دولت جل و بل یي د مظلومو چیغي، او ډنو سترگي له یاده ونه باسي او بیا په لیکنه کي (کیسي) لومړي کرښه یا پیلامه په داسي تورو وکړي چي لوستونکي تر پایه پوري ځان سره بوځي د کردارونو په (ښو او بدو) ښودلو کي دي مستقیمه مداخله نه کوي د هغوي اعمال دي انځوروي فیصله د لوستونکو ته پریږدي او کیسه دي داسي پاي ته ورسوي چي لوستونکي تري خپله نتیجه واخلي ، نتیجه دي لیکوال نه بیانوي.

دپښتوادب‌دسوزیدلي‌بڼ‌دبیاسمسورتیاپه‌هیله

پسرلی

ن.لاهر

غومبورونه د اوښکو ځنځیر
لیري کړه!
جانانه
پسرلي دي زنداني کړ

د پردې خبرې

استاد الفت

تر څو چي د ښځو مخونه پټ وي خبري به هم په پرده کي وي ځکه چي په پښتو کي خبره هم مونثه ده . یوازي خبره لا څه چي ژبه، وینا، معنا، خطابه، مقاله هم د تانیث علامي لري. هغه دنیا چي ابتکار په کي وي د ادب پردي ته لا ډیر ضرورت لري.

تاسي زما خبرو ته لږ غوندي باریك شئ .

د ادب او سیاست خبره ډیره باریکه ده .

زه په ډیره نري لار لاړم خداي دي وکړي چي ډیر باریك بین خلك په دغه لار راشي او په ځیر ځیر وگوري.

ما اوښان بار کړي، زما قافله د مچیو ده چي د گلونو له پاڼونه په هوا څه راوړي او عسل جوړوي.

له دي قافلي سره د سبا وږمو خوشبویي بار کړي ده چي څوك یي په سترگو نه ویني مگر حساس دماغونه یي احساس کولي شي.

هوا زما کار له احساس سره دي، زما خریدار باید ډیر حساس وي یا ډیر حساس شي .

حکایت

آورده که سالي در سرزمین «مستان» نزاع میان طوایف افتاد چنان که هر طایفه بي حق را از آن خویش گفتي و دگران را تهمت باطل بستي، پس چون عقل را از سراي براندند و جهل را بر صدر نشاندند نزاع بالا گرفت و بیدریغ دست به تیغ براند مقاتله عظیم بر پاگشت. انبوهي از مردمان کشته و اسیر افتادند کشتزار ها پامال سم ستوران گشتند و چشمه ها و نهر ها بخشکیدند و آبادیها در آتش بسوختند، درین حال هر کرادست قویتر بود هر چه بخواست بکرد ، و عاقبت ، خلقي بسیار از خواص و عوام، نالان و پریشان، به اکناف عالم به غربت برفتند و از یار و دیار جدا افتادند.

و هم در آن سال، حکیمي از سر اندیپ ، با تني چند از یاران آهنگ سرزمین «مستان» بکرد چون به نزدیك شهر رسید رودي بدید سیاه و هولناك از شهر برخاسته چنان که چشم خورشید را کور کرده روز روشن را به شب تار مبدل ساخته . حکیم بفرمود تا یاران از زمین باز ایستادند و او خود به آن دود هولناك همدید و انگشت حیرت به دندان همیگزید. از آن جمع یکي پرسید : :مگر شیخ را عزم ملك مستان نبود ؟ پس این تامل و درنگ از بهر چیست ؟

حکیم گفت : من از این دود ظلماني بوي جهل و خود پرستي همي شنوم آتشي که چنین دود از آن برخیزد هر ترو خشکي را بسوزاند و درین حال پندارم که عقل بانگ دهد که دوري از این تهلکه اولتر.

این بگفت و مهار ناقه واپس سوي سر اندیپ بکشید و یاران موافقت کردند.

ځواني

ډاکتربازمحمدمبتادمن

نباتات، حیوانات او د هوا مرغان ټول د هغې ښکلا په انځور مینان دي په کومه ښکلا کي چي لمر، سپوږمي... ټول د زړه ارام اخلي. دا خبره له ډیره وخته ښکاره ده چي پورته یاد شوي شیان د همدي ښکلا لپاره د ښکلا یادار وقف کړي دي رښتیا ! دا ښکلا څو دوري لري هره دوره یي له ډیرو خوندو څخه ډکه ده . د ښکلا له همدغه دورو څخه یوه هم د ځواني دوره ده . اه! ځواني ډیره خوږه او له خونده ډکه دوره ده .

په ځواني کي انسان له نویو فکرو او د خیالو له نوي دنیا سره اشنا کیږي ابلیس هم د انسان ځواني ته ډیر متوجه وي . کوشش کوي چي د ځواني په دوره کي انسان هغي لاري ته کش کړي کومه لاره چي خطا او بد مرغه ده .

زموږ ځوانان چي په اسلامي عقیده روزل شوي دي هڅه کوي چي خپله د ښکلا دوره د خزان له سپېرونکي باده وساتي او د ټولني هره گټه د ځان گټه هر تاوان د ځان تاوان وگڼي.

پښتو لنډۍ

د جنت حوري به یي سیل کړي
چا چي د دین په لار کي سر ورکړي وینه
د میړنو خویندي به ژاړي
د موزیگي خویندي به سترگي توروینه
د میني باره خپگان مه کړه
کاروان چي درومي سپي به خود غپا کوینه
رسول الله مو مخ کي شته دي
شیطان به پر کړي موږ به ټول جنت ته ځونه

نامگذاریها بر عدد

* یکه توت : قصبه ایست در حاشیت کابل
* یکه پسته : قریه ایست در سر منزل دشت لیلي، مربوط به فاریاب
* یك اولانگ : دهپاره ایست در ولایت بامیان
* یك لاهو : برجي بود در بالاحصار تاریخي کابل
* دو آب : ولسوالي گسترده ایست درعرض‌شاهراه‌شمال‌مربوط‌به بامیان
* دو کوه : ولسوالي که در ولایت جوزجان موقعیت دارد
* سه یاران : ارغوانزاریست در دامان کوهیندان پروان
* سه بابا : زیارتیست در عرض راه کابل، تنگرها ، با قریه اي و آبي
* چار ده : قریه ایست در غوربند
* چاردهي : چند قریه ایست در نواحي کابل
* چارآسیاب : دهپاره ایست در کابل
* چارسنگ : قصبه ایست در بلخ
* چار باغ : موقع خوش آب و هواي است در لغمان قریه بزرگ است در ولسوالي سرخرود ولایت ننگرهار
* چار سنگ : قصبه ایست در بلخ
* چارجوي : واقع در ارغنداب قندهار
* چاریکار : مرکز ولایت پروان
* چار سوق و چارچته : دوبازارمشهورکابل‌که‌دراستیلاي‌بیگانه‌ویران‌گردید.
* چار قلعه : روستاي است نزدیك شهر کابل
* چار بُرجَك : ولسوالي سرحدي مربوط به ولایت نیمروز
* چاربرجك : واقع در مرز لوگر و وردك
* چار مغز لکي : در عرض راه کابل و پغمان (این درخت تضمین اشخاص مفلس و لا جایداد است در اجاره کردن تعمیرات)
* چهلستون : قریه مشور است در نواحي کابل
* چار اسپ : پوسته ایست مشهور در سرحد زابل و پاکستان
* چار بولك ك ولسوالي است در بلخ
* پنجشیر : ولسوالي گسترده ،شامل‌دره‌ها‌وکوه‌ها‌مربوط‌ولایت‌پروان
* پنجده : ولایتي است از خاك هاي وطن ما که متجاوزین روس در مقدمه زمین دزدي ربودند (انشاء اله باز آب رفته به جوي مي آید).
* پنجپیران : زیارت گاه و قصبه ایست از مضافات پنجشیر
* پنجوایي : ولسوالي است درختزار و پر غله مربوط به ولایت کندهار
* شش گاو : محلي است در عرض راه کابل، و غزني
* شش پر : حال به شهپر تحریف شده و سمو په اي از یادگار دوره بودایي است در کوه آسمایي کابل
* شش درك : جایي است در کابل
* هشت رخ : صفه اي واقع در باغ ارگ کابل بود که در آن عبدالرحمن خان و حبیب الله خان دو پادشاه افغانستان بار داده و مجرمین را به جزا محکوم مي کردند.
* نه گنبد : مسجدي است در بلخ، یادگاري با شکوه هنر معماري در آغاز اسلام که بدان حج پیاده نیز گویند، هنوز بر آینده رونده نگران است .
* نه برجه : قلعه و آبادي است چسبیده به کابل

لوړ عزم او ټینگه اراده

په هر کار کي د یوي ټینگي ارادي او لوړ عزم شته د بریالیتوب او نیك مرغي بنسټ تشکیلوي. نور شرطونه د دومره زیات اهمیت نه لري. په واقعیت کي زموږ د عزم او ارادي کمزوري ده چي زموږ د بدمرغي او ناکامي باعث گرځي که نه انسان چي د هر شي هیله او ارزو وکړي د هغه د تر سره کولو دپاره په کافي اندازه قوت او انرژي شته .

د انسانانو اوسني پر مختگ ټول د لوړ عزم او ټینگي ارادي برکت دي نن چي انسانان اوسیني په هوا الوزوي ستره وجه یي همدا لوړ عزم او ټینگه اراده ده . د قوي ارادي خاوند یو ځلي چي کوم کار ته اقدام وکړي تر څو پوري چي ثمر ته یي نه وي رسولي لاس ورڅخه نه اخلي. د سیلابونو مخه نیول آسان کار دي خو د انسان د قوي عزم او پیاوړي ارادي مخه نیول گرانه خبره ده .

اراده په ژوند کي د بریالیتوب لومړي گام دي خو په شرط ددي چي په پرله پسي توگه تعقیب او د عمل په ډگر کي پلي شي. د قتیبه بن مسلم باهلي او محمد بن قاسم کلکي ارادي ته ایشیا او د طارق ابن زیاد اوموسي بن نصیر عزم که د اروپا لوړلوړ غرونه ټینگ نه شول . لوړ عزم او کلکه اراده له کامیابي څخه پرته بل قانون نه مني. په زیاترو خلکو کي داسي ډیر کسان شته چي په هر کار کي زړه نا زړه کیږي او شك او تردید په کي گوري. دغه راز کسان له ناکامي څخه ویریږي او په عین حال کي د سنجش او تول کولو قدرت او توان هم نه لري، بله ډله خلك داسي کسان دي چي په عادي ژوند کي د کارونو د اجرا کولو سره اصلاً مینه او دلچسپي نه لري دا کتگوری ډله خلك په هر موقف او حالت کي چي وي د وگړو د نیك مرغي په وړاندي یي ټوپسره دي، د هیواد او خلکو دپاره تل یي گټي وي. نن او سبا کول، چل ول کول او خلکو ته دوکه ورکول هیڅکله دیوي‌وروسته‌پاتي‌ټولني‌دپاره‌گټه‌نشي‌رسولاي.

د ژوندانه د کارونو دپاره اول شرط د ټینگي ارادي شته والي دي او په اخره کي جرئت او زړه ورتیا به کار ده . په بزدلي باندي هیڅ نه کیږي د افغانستان په موجوده حالاتو او شرایطو کي پاخه فکر، قوي عزم او زړه ورتیا ته پوره ضرورت شته دي . ددي هیواد ځوانانو ته د کار د امکاناتو تأمین او برابرول د وخت او زماني د یو ضرورت په توگه بلل کیږي. زموږ ویاړلي او لرغوني هیواد په اوس وخت کي تر ټولو زیات سولي او امنیت ته ضرورت لري. د تاریخ په گواهي همدغه کلك عزم او پیاوړي اراده وه چي افغانانو د تاریخ په اوږدوکي د خپل هیواد او ټاټوبي څخه دفاع کړیده او د خپلي خاوري دښمنانو ته یي غاښ ماتوونکي ځوابونه ورکړیدي. موږ په دي ټینگ باور لرو چي افغانان لکه د خپلو نیکونو او پلرونو په شان د خپل جنگ ځپلي هیواد د بیا رغاونې له عهدي څخه وتلاي او خپله مورني او پلرني خاوره د نړي د پر مخ تللو هیوادونو په قطار کي درولاي شي.

د هرات والي او د جنوب لويديځې ...

دښمن باندي پوره برلاسي دي د ګلم جم مـاتي خـوړلو ځـواکـونو په وروستيو وختونو کي څو ځلي زموږ پر دفاعي کرښې باندي حملي کړيدي او خـپل اعظمي زور يي وهلي دي، نو هيڅ يي په لاس ندي ورغلي او هر ځل يي شرميدلي ماتي خوړلي او د رانده تلفات يي ليدلي دي.

د پوښـتني د دوهمي برخي په ځـواب کي بايد ووايم چي د جنوب لويديځي حوزي اتل او له سره تير مجاهدين چي جهاد في سبيل الله خپل فرض ګڼي د بادغيس ، فارياب د جـبـهي په پيـاوړي کـولو او مظبوطولو کي مهم او ارزښتناك رول لري په ډاډ سره ويلي شم چي په دغه جبهه کي ميشته زمونږ ځواکونه تل ديته چمتو دي چي د خپلو سنګرونو د دائمي دفـاع برسيره ، ددښمن پر ضد تعرضي عمليات پيل او له منځه بې يوسي.

پوښـتـنه : په دي حـوزه کي د اسلامي احکامو د لا تطبيق او خپلو خلکو ته د لاښه خدمت لپاره څه ويل غواړي ؟

ځـواب : د طالبـانو د اسـلامي تحريك ستر ارمان او سپيڅلي هدف په دي وطن کي د اســلامي نظام تحقق، رښتيني اسلامي حاکـميت ټينګول او د هيـواد مسلمان خلك د تل لپـاره د تېرو پکيـانو د ظلم او ناروااو څخه ژغورل دي نو يو ځل بيا دا خبره تکراروم چي تر څو زمونږ په وجـود کي ساچليـږي د نومـوړو هدفونو د تحقق لپاره به جهاد کوو.

پارك بازي اطفال شهر نو افتتاح گرديد

پارك بازي اطفـــــال توسط کـــــابل شـاروال در پارك شـهـــــر نو افـتـتـاح و مـورد استفاده اطفال قرار گرفت .

آژانس اطلاعـاتي باختر گزارش ميدهد محترم ملا عبدالمجيد کابل ساروال در حاليکه محترم گريك ونسن رئيس موسسه هبيتات با وي و همراه بود از امـور سرسبزي و احيـا مجدد تشناب هاي پارك که قبلاً تکميل گرديده بود ديدن نموده و پارك بازي اطفال را نيز افتتـــــاح نمود که با افتتاح پارك بازي اطفــــــال، زمينه سـرگـــــــــرمي سالم براي اطفال مهيا گرديد.

يك باغ نمايشي در ولسوالي خاص ارزگان افتتاح گرديد

بخاطر سرسبزي ولايت ارزگان يك باغ نمـايشي در ولسـوالي خـاص ارزگان طي محفلي افتتاح گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد در محفليکه به همين مناسبت به اشتراك مـسوولين ولايت ارزگـان علمـا ، مشران، بزرگان و اهالي آن ولسـوالي تدوير يافـتـه بود محترم مـلا عـبدالبصير اخند ولسـوال ولسوالي خاص ارزگان در رابطه به اقدامات امارت اسلامي افغانستان جهت سرسبزي کشور صحبت نموده از کار و فعالت کارکنان و کارگران زراعت آنولايت وسرسبزي آن عمل قدرداني بعمل آورد.

در باغ متذکره پنجصد اصله نهال ميوه دار غرس گرديده است .

په اسلام کي د نسل ...

ناست وو چي د صحابه و په دي ډله کي د عزل خبره را پاده شوه دوي ټولو وويل چي عزل پروا نه لري يو صحابي وويل چي دا « موؤدة الصغري » دي نوعلي «رض» ځواب ورکـړ چي نه دا مـوؤدة (د اولاد ژوندي خښول يا په بل عبارت د اولاد وژل» نه دي تر څـو چي اوه مـرحلي پري تيري نـه شي. هغـه د خټو زيښن «سلاله من طين»، بيا مني، بيـا يوه ټوټه کلکه پرکټوه وينه، بيا کرپندونکي بيا هډوکي ، بيا غوښه بيا... حضرت عمر «رض» ورته ځواب ورکړ چي رښتيا دي وويل خداي دي عمر اوږد کړه .

د انس «رض» له ميـرمن او د وهب له لور جذامـه«رض» نـه روايت دي چي رسول الله «ص» د خلکو منځ ته راغي او وبي ويل « ما غوښـتل چي د شيدي رودونکي کوچني له مور سره له جماع نه منع وکـړم مګر زه خبـر يم چي د فـارس او روم خلك دا ډول کار کوي او بچيانو ته يي هيڅ تاوان نه وررسيږي» بيا له هغه «ص» نه د عـزل پـه هکـله وپوښـتل شـول نـو رسـول اللـه «ص» وويل چي « دا پټ اولاد وژل دي»

سعيد ابن حزم ظاهري وايي چي عزل حرام دي او دليل يي همـدا پورتني حديث دي چي پـه دي حــديث کي عــزل ته وأدالخــــــفي (د اولاد پټ وژل) ويـل شويدي.

سبل السلام جلد ۳ص ۱٦۸ .

شبانگاه ...

خواست تا از روزنه، اتاقش به بيرون نگاه کند که ناگهان صداي پايي افکارش را به هم زد و تکرار اين صدا ها او را بيشتر نگران ساخت معلم قيوم خواست تا همسايه ها را به کمك بطلبد که به يکباره گي صداي شليك گلوله يي او را مانع از اين کار نمود.

در اين دقـايق خـواهران جـوانش کـه با صداي شليك گلوله ها بيدار شده بودند به وي نزديك شدند.

در آن دقايق حينيکه معلم قيوم خواست تا مانع از پيشروي خواهرانش به سوي بالکن گردد ، ناگهان گلوله يي بر قلبش جا گرفت و همزمان با اصابت گلوله بر قلبش، دو خواهر جوان وي نيز در پا و بطن خويش شديداً زخم برداشتند.

آخر هاي شب بود ، با شليك گلوله ها و فـرار عـاملين آن، سکوت شب بر هم خورد و به زودي همسايه ها فرا رسيدند.

معلم قيوم که لحظه هاي اخر زنده گيش را پشت سر ميگذاشت با ديدن خواهران زخم خورده اش، اشك در چشمانش جاري گشت و بي آنکه انديشـه يي از قلب سـوراخ شـده، خويش داشته باشد با کوله باري از غم و اندوه به ابديت پيوست .

کار تفتيش ملل متحد در عراق ادامه دارد

لندن : گزارشـهاي داده شده از طرف آژانس هاي بين المللي حاکي از آن است کـه کـار تفـتـيش ملل متحد در قصر هاي رياست جمهوري عراق ادامه دارد.

گزارش مي افزايد که روز گذشته هم کار تفتيش در قـصر هاي موصل ادامه داشت و ماموربن ملل متحد از همکاري مامـورين عـراق اظهـار رضـــايت مي کـنند امــــا هيــأت تفـتـــــيش ملل مـتـحـد واضح نکرد که دربن قصر ها ســـــلاح هاي مـورد نظر ملل مـتـحـد بدست آمده است يا خير؟

تصدي سپين زر کندز ...

استقرار نظام تحريك اسلامي طالبان در ولايت کندز، تصدي سپين زر توانسته است که در موجوديت ۵۰۰ نفر کارگر در حدود ۷۰۰ ميليون افغاني عوايد به دولت داشته باشد.

وي اضافه داشت : فعلاً تصدي سپين زر کمافي السابق ميتواند پخته ميلوج ، روغن، صابون ، پوستك، کنجاره و هوا اکسيجن با کيفيت عالي توليد و توليدات خويش را به داخل و خارج از کشور صادر نمايد. هم اکنون تصدي سپين زر در ٤ ولايت کشور (کندز ، بغلان ، تخار و بدخشان) ۵۰۰ هزار هکتار جريب زمين زراعتي و باغ داشته و سالانه از آن ثمر ميبرد.

محترم مجاهد افزود : تصدي سپين زر کـه در چوکـات وزارت مـعــدن و صنايع امارتاسلامي افغانسـتان فعاليت دارد ، فعلاً در سطح موسـسات توليدي کشور هاي آسياي ميانه حائز مقام درجه اول ميباشد؛ ضمناً در سطح موسـسـات توليدي کشور لقب پر کار ترين شرکت توليدي را کمايي نموده است .

محترم مجاهد در اخير صحبت خويش به خـبـرنگار مـا چنين اذعـان داشت : امـروز توليـدات شـرکت سـپـين زر نه تنهـا اينکه ميتواند احتياجات(پخته، صابون، پوستك، روغن و ...) مـردم ولايت کندز را مـرفـوع نمايد؛ بلکه ميتواند در سطح امارت اسلامي احتـيـاجات مواد ياد شده مـورد ضـرورت ولايات کـشـور را تکافو نمايد.

د غزني ولايت نظامي ...

په لاره کي ددي محکمي د راتلونکو اجرااتو په باره کي خـبري وکړي او دا اقـدام يي يو اسلامي او شرعي عمل وباله .

په دي غـونډه کي مـحـتـرم مـولوي داد مـحـمـد د غزني ولايت د نظامي محکمي د رئيس په توګه ، محـتـرم قـاري حضرت شاد قاضي په توګه او محترم مولوي عبدالمجيد د مفتي په توګه وټاکل شول.

په کندهار کي په يو تن ...

څو اياتونه ولوستل شول بيـا د سپـين بولدك ولسوالي ولسوال محترم الحاج مولوي عبدالحق مخدوم ، محترم مولوي عبدالرحيم د سروني او روزني رئيس محـتـرم مـلا عـبـدالحق اخند او محـتـرم مولوي عبدالغني د قـاتل په باب د اسلامي شريعت د حکمونو او په هغه باندي د قصاص د تطبيق د ګټو په باب خبري وکړي او د قراني اياتونو او د نبوي احاديثو له مخي يي حاضرينو ته معلومات ورکړل .

وريسي په محمود د عبدالحميد په زوي باندي چي تېر کـال يي جيـلاني د حاجي بسم الله زوي د چاقـو په ګـوزار سـره وژلي و د قصاص په باب د مرافعه محکمي پريکړه او د عاليقدر امير المؤمنين تائيد تطبيق او ذغه قاتل ددغي غونډي د زرګونو تنو برخه والو په وړاندي قصاص شو .

د کوه صافي په استقامت ...

د وژل شوبو کسـانو د مړو د ليـږدوني وس له لاسه ورکړ او خپلي څو ميله ډول ډول سـپکي وسلي يي پريښـودي او ګاونډيو غرونو ته وتښتيدل.

د دښمن د شپږو تنو افرادو مړي اوس هم د جګړي په ډګر کي پاتي دي .

امريکايي ډاکتر د ...

تنه ددي لپـاره وژلي دي چي په روغتون کي يي د عـلاج له جنجال نه ځان خلاص کړي .

تير کال په هند کي ... -

رپوټ کي ويلي دي چي تير ۱۹۹۷ م کال د خبريالانو لپاره تر ټولو غموونکي کال وو.

د خاص ارزګان سرك د شګي...

واکمنانو د بي کـفـايتي او د ډيرو د لويدو له امله له کاره وتي و په دي وروستيو وختو کي ددغي ولسوالي د ښاروال محترم الحاج ملا غلام فاروق اخند او د خاص ارزګان ولسوالي د ولسوال محترم ملا عبدالبصير اخند د پاملرني او هلو ځلو له امله او ددغي ولسوالي د خلکو په هر اړخيزو همکاريو په اساسي توګه جوړ او د ترافيکو د استفادي وړ وګرځيد.

د هيواد د لسو ولاياتو ...

جلبولو په باب خبري اتري کيږي .

دغـه سيـمينار د سرو ميـاشتـو د نړيوال فدراسيون استازو او د افغاني سري مياشتي د ټولني استـازي او دغـه راز د بدخشان کندهار هرات، تخار ، بادغيس هيلمند ارزګان خوست، زابل او غزني د ولايتونو د مرستي او عمليـاتو چارواکي ګډون لري .

د کمبي شريفي د وينګو ...

اسـلامي امـارت لوي سفـير محـتـرم مولوي شهاب الدين دلاور ته هم بلنه ورکړل شوي وه .

په دغو مراسمو کي د اسلامي هيوادونو برخـوالو اسـتـازو د نړي د مـسلمـه امت د نيکمرغي او سوکالي په خاطر دعا وکړه او د لوي خداي «ج» له درباره نه يي د مسلمه امت د خير او فلاح هيله وکړه .

پلخمري در آستانه ...

بيني نـموده افـزود : دشمن در خط جبـهـه پلخـمري کاملاً مورال خود را از دست داده و تاب مـقـاومت را در برابر مـجـاهدين تواناي اردوي اسلامي ديگر نخواهد داشت .

هم اکنون مليشـه هاي کيـاني با تردد و سراسيمگي خاص همراه با فـاميل هاي شان شهرك پلخمري را ترك گفته و به دره، کيان پناه گزين شده اند . سلاح هاي ثقيله، ديپو هاي مهمات و وسايط ترانسپورتي خويشرا از شهر پلخـمري به آن طرف دره کيـان انتقال داده اند که همين عقب نشيني ايشان گواه بر شکست قطعي مليشه هاي مزدور کياني بوده شهرك پلخمري در استانه سقوط حتمي قرار دارد ، ان شاء الله .

يادونه

ښـايي سـتـاسـو ايمـان به اجـازه درنکړي چي دا ډول سپيڅلي پاڼي په ناوړو ځايونو کښي وغورځوي.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300

د شريعت تبصره

به اظهارات اخير آقاي ابراهيمي بايد توجه کرد !!؟

اخضر ابراهيـمي نمـاينده خـاص سـرمنشي سـازمـان ملل مـتـحـد در امـور افغـانسـتـان اخيراً طي اظهار نظر هايش در مورد جريانات جاري کشور ما ، علناً از جاده انصـاف و تقـاضـاي علم و دانش پا بيـرون نهـاده و با بي پروايي هاي غـيـر مسولانه جانب امارت اسلامي افغـانسـتـان را با دلايل نا آگاهانه و غير مستدل به باد انتقاد گرفته است . موصوف در جريان سخنان اش در رابطه به جوانب مختلف قضاياي جاري ميهن عزيز ما بر علاوه در افشاني هاي ديگر اظهار داشته است که گويا امارت اسـلامي افغانستان نظامي را در افغـانسـتان حاکم ساخته است که نه با اسلام همآهنگي دارد و نه در کشور هاي اسلامي مثال آن ديده شده است اگر آقاي ابراهيمي معلومات کافي در مورد اسلام ميداشت يقيناً که چنين قضاوت و اظهار نظر نميکرد زيرا عـملکرد هاي امـارت اسـلامي افـغـانسـتـان در رابطه به مـسـايل داخلي و سياست خارجي کشور فقط در چار چوب موازيني قرار دارد که احکام صريح اسلامي در مورد آن موجود و از ضروريات مبرم نظام وحکومت اسلامي مي باشد. امارت اسـلامي افغانسـتـان به جزء اينکه احکام شريعت غراي محمدي را مطابق به فيصله علماي دين در صحنه عمل پياده نموده و تمام روابط و فعاليت هايش را در پرتو احکام الهي و سنت نبوي «ص» مزين ساخته است به کدام عمل و يا اظهار نظري متوسل نگشته است که باالسلام مغايرتي داشته باشد و بنا بر گفته هاي آقاي ابراهيمي با اسلام همآهنگي نداشته باشد روابط دوستانه امارت اسلامي افغـانسـتـان با ملت ها و ممـالك جهان بر اساس خوشنودي و رضـاي خداوند «ج» متعال و عدم پيوند و توسل امارت اسلامي با ديگران بر بنياد دشمني با دشمنان دين حق استوار بوده و اين سياست حکم اسلام است امارت اسلامي افغانستان به خاطر تطبيق قانون آسماني قرآن و دين اسلام مطابق تقاضاي شريعت به خوشي هيچ کسـي و يا هم به نارضـايتي هيچ مرجعي وقـعي نگذاشته و در همه امور و تصاميم فقط قانون الهي را مشعل راه و تکيه گـاه خود ساخته اگر کسي مي پسندد و يا نه مي پسندد مربوط به قـضاوت خـود شـان است امـا تعـقيب اين سياست امارت اسلامي نيز حکم اسلام است . همچنان امارت اسلامي افغانستان قانون الهي را برتر و کاملتر از همه اصول و موازين دانسـتـه و مطابق احکام آن عمل نموده که اين روش نيز تقاضاي شريعت پروري و تابعيت کامل از اسلام ميباشد همچنان در صحنه مسايل داخلي کشور، امارت اسلامي توانسته تا بعد از ساليان درازي امنيت کامل را در کشور حکمفرما نمايد ، جان مال و عزت اتباع کشـور را مأمون سـازد. جلو همه انواع مظالم، مفاسـد و بدکاريها را در کشـور بگيرد. و بالاخره در راه تحکيم نظام مورد نظر ملت خود (نظام مبارك شريعت) حفظ اسـتقلال ، تمـاميت ارضي و وحدت ملي کشـور و تأمين زندگي مرفه براي همه اتبـاع کشور از هيچ نوع ايثار و جانفشـاني دريغ نورزيده است که همه اين اقـدامات مطابق شريعت اسـلامي بوده و بخش هاي اسـاسي حکومت اسـلامي را تشکيل مـيـدهد اينکه آقـاي ابراهيـمي ميگويد نمـونه نظام امـارت اسـلامي افغـانسـتـان در اسلام نيست يا اينکه موصوف از حسـادت شخصي خود کار گرفته يا به منظور خوشنودي دشـمنان منطقوي و بين المللي اسـلام به چنين اظهـارات متوسل گشته و يا اينکه از اسلام علم و خبري ندارد که در هر صورت لازم است تا جناب عـالي متبـعد از در کينه يا حفظ موقـعيت خود و يا هم نا آگاهي علمي بسوي مـانه ديده و ملت قـهرمـان مـا را از خـود نرنجـاند. در قـدم دوم اگر آقـاي ابراهيمي مدعي شده که مثال امارت اسلامي افغانسـتان در ممالك اسـلامي نيست شايد راست گفته باشد زيرا اين افتخار از ملت ما و از امارت اسلامي ماست که بعد از صد ها سال باريگر نظام سعادت آفرين اسلام را در سرزمين خود حاکم و عملي ساخت و در جهـان امروزي واقعـاً که هيچ کشـور وجود نه دارد که به اين مقياس و حدود توانسته باشد نظام اسلامي را در خاك خو پياده نمايد و اگر از اظهـار نظر اخير ، مطلب آقـاي ابراهيمي عدم پيروي امارت اسلامي افغـانسـتـان از نظام هاي متکي بر خواسته هاي انسـاني عوض احکام آسمـاني باشد چنانکه در جهان مروج است بايد آقاي مذکور متوجه گردد که با اين اظهار نظر از جاده حق و عدل انحراف نموده است زيرا بهبودي و فلاح هر صنع را صـانع آن بهتر ميداند نظر به اينکه خود مخلوق يا مصنوع در مورد آن فکر کند احکام و اصولي را که خداوند براي سعادت بشريت فرستاده است براي نجات و خوشبختي انسـان کافي است و ماجزء آن چيزي ديگري را نمي پذيريم سزاوار است تا آقاي ابراهيمي عوض آنکه غير مـسولانه در مورد نظام و امارت اسلامي ما اظهار نظر نمايد در مورد مسـايل و قضـاياي که به خيـال موصـوف با ممـالک‌اسلامي نا همګون است با امارت اسلامي به مباحثه و مناقشه علمي پرداخته با خود و يا جانب مقابل را به اختيار پيروي از اسـاليب نافعه بشري مـتـقـاعـد گرداند. مـسـوولين امـارت اسـلامي افـغـانسـتـان از آغـاز تا امـروز به حل علمي مـعـتـدل و مـسـتـدل مـسـايل گردو پيش حـاضـر بوده و از ديگران نيز تقاضاي اين شيوه را مينمايد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
,Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press